**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د وياند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تيليفون:** ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
**بريښناليک:** spokesperson-unama@un.org
**ويب سايټ:** http://unama.unmissions.org

## د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي پر ټولو کانديدانو غږ کوی چې په باوقاره او منصفانه ډول سره کمپاين وکړي

زه د کانديدانو څخه غواړم چې په باوقاره او منصفانه ډول سره کمپاين وکړي. دا د ټولو کانديدانو ګډ مسوليت دی څو دا باوری کړي چې دغه ټولټاکنی به د افغانستان د يموکراتيکو موسسو او پر ديموکراتيک بهير باندې د خلکو باور پياوړی کوي. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو لوړ پوړی استازی کای آيده دغه غوښتنه هغه وخت وکړه چې د جمهوری رياست او ولايتی شوراګانو د ټولټاکنو کمپاين يو ورځ وروسته د جون په ۱۶ نيټه په رسمی ډول پيل کيږي.

هغه په دې ټينګار وکړ چې ؛ډاروني، تهديدونکي لهجه او هر ډول تيری بايد د ټولټاکنو په دی کمپاين کې ځای نه لري. ټول نوماندان بايد خپل کمپاين په داسی توګه پر مخ بوځی چې په هغه کې د نورو کانديدانو د حقونو درناوي وشي او دا چې کمپاين بايد آزاد او پرته له هر ډول مداخلې څخه تر سره شی. دا ډير زيات اهميت لري څو د دې باور تر لاسه شې چې ټول ټاکنې د اعتبار وړ او دا چې نتيجې او پايلې يې ټولو ته د منلو وړ وي.؛

ښاغلی کای آيده په دې ټينګار وکړ چې په دقيق ډول د جهمور رئيس د هغه فرمان درناوي وشی چې د هغه له مخې دولتی ادارې او رسمي چارواکې د مداخلې حق نه لري او دا چې هيڅ دغه ډول مداخله به د هيڅ يو کانديد لپاره د جمهوری رياست او د ولايتی شوراګانو په کچه د منلو وړ نه وي. او هغه د دی غوښتنه وکړه چی د ټولټاکنو د چارواکو بی طرفی ته دی بشپړه درناوی وشئ.

کای آيده زياته کړه: زه د دې انتظار لرم چې داسی انتخاباتی کمپاين پر مخ ولاړ شی چې د هغه له مخې هر نوماند وکولای شی د افغانستان د راتلونکی لپاره يو ليرليد ولري. د هر بل وخت څخه زيات افغانستان داسې يوې مباحثی ته اړتيا لري چې پر هغو کليدی ننګونو باندی متمرکزه وي چې هيواد ورسره مخ دی او دا چې افغانستان څنګه د پرمختيا پر لاره ولاړ شی. افغان وګړي بايد په دې وتوانيږی چې د سياسی بديلونو تر منځ انتخاب ولري، او نه دا چې د بيلا بيلو کسانو او افرادو تر منځ، هغوي بايد په دې وتوانيږی چې په واضحه توګه دا وګوري چې کانديدان د څه لپاره ولاړ دي، نه دا چې هغوې څوک دي. نو زه ځکه د دې هيله لرم چې په راتلونکو دوه مياشتو کی د پياوړی او آبرومندانه سياسې مباحثې شاهد واوسو.؛

ښاغلی کای آيده دا هم ياده کړه چې؛ ډير افغانان په وروستيو کلونو کې د لازم پر مختګ د نشتوالی له امله نااميده شوي دي. دا نړدې په هر هغه هيواد کې چې په منازعه او کړکيچ کې دی او کمزورې موسسې لري، يوه ناګزيره حالت دی. افغانان لا هم د جګړی، سختيو او د بی وزلۍ څخه ځوريږی. نو ځکه د راتلونکې حکومت او ولايتی چارواکو ځواکمنتيا او مشروعيت په دغو ټول ټاکنو کې د خلکو په فعاله ګډون پوری تړاو لري. راتلونکې کلونه به د افغانستان د ټيکاو او سوکالۍ لپاره ټاکوونکې وي. زه ځکه د ټولو رايه ورکوونکو څخه غواړم چې د ټولټاکنو کمپاين د نږدې تعقيب کړي او د ټولټاکنو په ورځ خپلې رايې صندوقونو ته واچوي.

ښاغلي کای آیده د دی یادونه وکړه چې دغه ټولټاکني به د افغانی چاروا‌کو له خوا تنظیم او اداره کیږی. هغه وویل: ملګري ملتونه او نړیواله ټولنه به په عمومی صورت له نږدي څخه د ټولټاکنو د پروسې څارنه وکړي او د ټولټاکنو د یوی داسی پروسی څخه به پوره ملاتړ ولري چې هغه عادلانه او د اعتبار وړ وي.

کابل د ۲۰۰۹ کال د جون ۱۵ نیټه